NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# د افغانستان د ټاکنو په هکله نوي معلومات


د لازیاتو معلوماتو لپاره

اندی.ام.ا کمبیل: مملکتي رئیس

+93 (0) 79 813 7023

acampbell@ndi.org



د ولسي جرګې ټاکني په ۱۸ د سیپتمبر د ۲۰۱۰ روان | د سپتمبر ۴ نیټه ۲۰۱۰ کال: ۱۴ ورځې ټآکنو ته


ملي دیموکراتیک انستیتیوت د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې دټاکنو د پروسه او د څارني دندي په غاړه لري. چه اړوندی دندي به دی ټاکنو تر مخه، پرمهال او د ټاکنو څخه وروسته تر سره رکیږی. د څارني او اړوندو دندو لپاره ۱۴۰ نړیوال او افغاني څارونکي په ټول هیوداد کښی په خپلو دندو بوخت دي. د لازیاتو معلوماتو لپاره زموږ بریښنا لیک دی. NDI.org

AfghanistanElectionData.org.

## بلواګرې ډلې به د ټاکنوپه بهیر کي څه ونډه ولري؟

### مخالفي وسلوالې ډلې ټاکنې هم په خپله خوښه استعمال او هم ګډوډوي

اوریکې ډلي، د طالبانو په شمول په ښکاره ډول د نوماندانو څخه د ولسې جرګې د ټاکنو پایلو په اغیزمن کولو کې ملاتړ کوي چي دغه ټاکنې به د سپتمبرپه ۱۸ ترسره شې. مخالفې وسلوالي ډلې دګلبلدین داسلامي حزب په شمول نوموړې ټاکنې غیر قانونې بللي او رد کړې یې دي. او رایه اچونکوته یې اخطار ورکړی که څوک په ټاکنو کي ونډه واخلي نو زیان به وممومي او یا به ؤوژل شې. مخالفو وسلوالو ډلو سږکال ورته بیانیه خپره کړې. د ۱۶۰ څخه زیاتي مرکې چي د ولسي جرګې نوماندانو سره ترسره شوې او په لس ګونو نوری مرکې چي د اړوندو ښکیلو خواوؤ سره ترسره شوي دي، د ملي دموکراتیک انستیتوت د ځینو ولایاتو څخه په هیواد کي داسی بیلګی را ټولي کړي دي چیرته چي بلواګرو د رایه اچونکو څخه غوښتي ترڅو د نوموړو د خوښی نوماندانو ته رایه ورکړي هغه چاته چي د بلواګرو د اهدافو رسیدوته زړه سواندې وي. د یوه راپور په بنسټ چي د جولای په میاشت کي د بشري حقونو خپلواک کمیسیون لخوا خپور شؤ. له یو پلوه بلواګر د ټاکنو پرضد تهدیدات خپروي او له بله پلوه هڅه کوي چي په ټاکنو کي ونډه واخلي

**نوي معلومات: fghanistanElectionData.org د ۲۰۰۴، ۲۰۰۵ کلونو د ټاکنو**

**په اړه د ملي دموکراتیک یوه معلوماتی پروژه چې هره ورځ په نویو معلوماتو سره سمبالیږي. یوه ښه معلوماتي سرچینه د د تیرو ۶ کلونو ټاکنو په اړه.**

غور چي د هیواد په لویدیځې سیمي کي یو ولایت دی، د یوې خپلواکې رادیو ژورنالست ملي دموکراتیک انستیتوت ته بیان وکړ، چي د طالبانو یوتن قوماندان ویلي دي چي رایه اچونکي کولی شې په ټاکنو کې برخه واخلې ولې په دي شرط خو یوازې هغو نوماندانو ته چې د ده لخوا تأییدیږي رایی ورکړي. د شورا یو غړي د بلخ په شمالي ولایت کي د افغانستان د څیړنو او ارزوني اداري ته ویلي چي دواړه خواوؤ د حزب اسلامی ډلې او هم طالبانو په اغیزمن ډول د ځیني نوماندانو څخه ملاتړ کړی د بیلګه په ډول، نوموړو د یو ښونځي مدیر ته ویلي چي باید روزونکي ملاتړ کړی . هغه ؤویل: دبیلګه په توګه، هغه د یوه ښونځي مدیر ته ویلي چي خپل زده کونکي دې ته اړ کړي ترڅو یو مشخص نوماند ته رای ورکړي او کنه ګوتي به یی غوڅې شي. یو نړیوال مامور چي د بلخ په ولایت کي کار کوي په ډاګه کړه چي د حزب اسلامي ډله ځیني نوماندانو ته ځانګړې اسانتیا وې برابروي ترڅو کلیوالو سیمو ته سفر وکړی امنیت یی هم د دوي لخوا نیول کیږي. پاتې برخه ۲پاڼه

## په ولایاتونو کي د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

اوسنی د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د قانون د ۶۱ مادی په رڼا کي د ولسمشر د فرمان په صادریدو رامنځته شو. کورني غړي یی د ۲۰۱۰ کال په اپریل کي وګمارل شول - د اداري مقررې یې د ۲۰۰۹کال په یولړ نوښتونو ، نافذې شوې— په ولایت پورې اړوند په یوه مرکزي جوړښت باندې ټینګار کوي چي د ولایتونو ټاکنیز شکایتونو کمیسیونونه د شکایتونو په اړه لومړني صلاحیتونه لري . ورته د کابل د مرکزی کمیسیون په څیر ولایتی کمیسیونونه هم د ۵ کمیشنرانو په درلودلو سره خپلې دندې ترسره کوي، ۱۱۳ ولایتي کمیشنران د ولسمشر کرزي لخوا و ګمارل شول . په تیرو ۴ اونیو کي، دملي دموکراتیک انستیتوت له ۵۰۰ څخه زیاتو نوماندانو، د سیاسي ګوندونو غړو، حکومتي لوړپوړو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنیز شکایتونو کمیسیون، او د سیمې له مشرانو سره مرکې وکړې د نوموړو نظرونه داسې ستونزې په ګوته کوي چي د ولایاتو ټاکنیز شکایتونو کمیسینونه ورسره سږ کال لاس او ګریوان دي. د ټاکنیز شکایتونو کمیسیون او ولایتي شکایتونو کمیسیونونه د ټاکنو قوانیونو په رڼا کي ۱۲۰ ورځې د ټاکنو تر مخه جوړ او د ټاکنو وروسته به له منځه ولاړ شي. د یوې لنډې مودی د کمیسیون په شان، د شکایتونو کمیسیون د مامورینو او ماهرو کسانو په ساتلو کي هم د ستونزو سره مخ شوی. د ګن شمیرو ولایتي شکایتونو کمیسینونو غړي د ټاکنو په شکایتونو اوریدلو پروسه کې په ټولیزه توګه نوي ګمارل شوي. په بلخ، فراه، لوګر، نیمروز، او پروان ولایتونو کي یواځي یو مامور د ۲۰۰۹ کال څخه ساتل شوی . د پنجشیر ولایت د ټاکنیز شکایتونو کمیسیون د نویو مامورینو څخه تشکیل شوی دي.

د ولایتي ټاکنیز شکایتونو کمیسیونونو د سرچینو د کموالی په اړه اندیښنه ښودلې او وایی چي د سرچینود کموالی له امله موږ نشو کولای ترڅو خپلې څیړنې په ولسوالیو کي ترسره کړو. د بلخ ولایت د ټاکنیز شکایتونو کمیسیون د راپور په بنسټ چي نوموړي خپل اسناد په ښار کي چاپوي چي دا کار د اسنادو د محرمیت په اړه اندیښني راپارولي دي. له دې سره سره د ولایتی شکایتونو کمیسیونونه د خپل چاپیریال له امنیت څخه اندیښمن دي او یو زیات شمیروته په سهیل ختیځ کي مستقیم ګواښونه ترسره شوي. او کمیشنران اندیښمن دي چي جنګ سالاران به د دوی څخه خپل غچ هغه وخت واخلې کله چي نوموړی کمیسیون وتړل شي. ځکه نوموړی کمیسیون د یو لنډ مهال لپاره تأسیس شوی ده.

د ځینوولایاتونو د شکایتونو کمیسیونو نو خپل ډاډ څرګند کړی ده او وایی چې دوی د پخوا په پرتله ښه توانایی لري. د پروان ولایت یو کمیشنر په ډاګه کړه چي زیات شمیر ترلاسه شوي شکایتونه د نوموړي کمیسیون لاس ته راوړنو ته یوه اشاره ده چي په ۲۰۰۹ کال یی د ځایی خلکو په آند خرابه انځوردرلوده. څو مامورین د ۲۰۰۹ کال څخه پاتي شوي چي نوموړو کمیسیون دولتي او جانبداره وباله. زیات شمیر د سیاسي ګوندونو غړي، نوماندان او حکومتي مامورین په دې اړه اندیښنه ښی یی. یوې مرکې د کندز ولایت د شکایتونو کمیسیون په اړه اندیښنه وښوده چي ټول مامورین یی پښتانه دي په داسې حال کي چی د کندز په ولایت کې ګڼ قومونه میشت دي،

د جون میاشتي په ۱۹ نیټه د شکایتونوکمیسون د پارلماني نوماندانو دلست په اړه یو راپور خپور کړ. چي اندیښني ( د لازیاتو معلوماتو لپاره د ملي دموکراتیک انستیتوت د ټاکنو دویمې شمیرې نوي معلوماتو ته مراجعه وکړئ)


پاتي برخه په ۲ پاڼه کي

## وسلوالي ډلي ( د لمړی پاڼي پاتې برخه)

اندیښني( د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ټاکنو دویمې خپرې شوي نوي معلوماتو ۲ پاڼې ته ولاړ شی)

د بغلان او کندز په ولايتونو کي، ځيني نوماندان مستقيماً د يو شمير ډلو څخه چي ځان طالبان بولي اړيکې نيسي تر څو په اړوندو ټاکنيزو حوزو کي بريدونه کم کړې. د يو نړيوال چارواکي په وينا چي د ملي دموکراتيک انستيتوت ته يې بيان کړ. په داسې حال کې وسلوالې ډلې د بريدونو په زياتوالي او کموالي د ټاکنو په حال کي په نوماندانو اغيزي اچولې دي. تر لاسه شويو ريپوټونو په بنسټ، وسلوالې ډلې چي ځان طالبان بولې امکان لري چي د کندز په ولايتې مرکز بريدونه ترسره کړي چي نوموړي بريدونه به په ټاکنو کي زيات مخالفتونه رامنځته کړي. نوموړي بريدونه به سياسي دليلونه هم د هغو نوماندانو لپاره ولري چي ټاکنيز مرکزونه يې په سيموکي شتون ولري.

( لاندی د شمال ختيځې سيمې نوې معلومات و گورئ)

مخالفې وسلوالي ډلې هم په ډيرو دوديزو تخنيکونو چلند کوي او د ګواښونو او بريدونو په ترسره کولو سره غواړې چي ټاکنې خرابې کړي. تر اوس مهال ۴ نوماندان وژل شوي او رايه اچونکو ته خبر ورکول شوی ترڅو په ټاکنو کي ګډون ونکړي او مخالفو وسلوالو ډلو ګواښ کړی چي دوی به د ټاکنو په ورځ بريدونه ترسره کړي. د ملي دموکراتيک انستيتوت د مخالفو وسلوالو او هغو ډلوچي ځان طالبان بولي په زياته شميره ريپوټونه ترلاسه کړې، چي نوموړي ريپوټونه په ګوته کوی چي دوی په ټوليزه توګه د ټاکنو پر ضد فعاليتونو بوخت دي، لکه رايه اچونکو ته اخطار ورکول ترڅو رايه ورنکړي او په ځانګړي ډول د ښځو د ونډي اخيستلو سره په ټاکنو کي مخالفت ښيې.د دې ريپوټونو سره سره، د يو شمير سيمو څخه داسي شواهد شته چي د مخالفو وسلوالو ډلو اهدافو رسيودو ته ډول ډول لارې په ګوته کوي. لکه د زړه سواندو نوماندانو څخه ملاتړ کول.

## ولايتي شکاياتو کميسيون د لمړی پاڼې پاتي برخه

د هغي نيتې څخه وروسته هغه شمير شکايتونه چي ولايتي کميسيونونو پرې پريکړه کړې او يا ځنډيدلي، تراوسه هم څرګنده شوي نه دي. که څه هم د ولايتونو شکايتونو کميسيونونه کولای شي چي د لاس ته راغلو شکايتونو شمير څرګند کړي ولې نور هم د دې کار سره يا مخالفه او يا ليوالتيا نه ښيې. ګڼ شمير د شکايتونو اوريدلوکميسيونونو وايی چي دوی جريمي او خبرتياوي خپري کړي ولې د نوموړو جريمو شمير څرګند نه دی او ليکل شوي پريکړي په اعلان نه دي ځړول شوي. د شويو ادعاګانو په بنسټ چي ګڼ شمير شکايتونه د اسنادو او يا ثبوتونو د نه درلودلو په اساس رد شوي په داسې حال کي تر اوس مهاله داسي لاربنونه نده شوې چي نوموړي اسناد څرنګه لاس ته راوړل شي. يوه ښځينه نوماندە د ټاکنيزو سياليو په مهال ، وار وار تهديد شوې او وسله هم ورته نيول شوي ترڅو انداخت پر نوموړې وکړي. نوموړي ادعاً کوي چي دې ته د شکايتونو د کميسيون لخوا ويل شوي ؤ چي تا بايد يو تن د دې لپاره چې وسله وال کس يې تعقيب کړی وي، په کار ګمارلی وي. که داسي وي نو د شکايتونو کميسيون د څه لپاره دی. نوموړې د ملي دموکراتيک انستيتوت ته وويل. چي د خلکو د ا جذبات په داسې حال کي را وپاريدل چي د دوی په آند د سندونو غوښتل د شکايت کونکو څخه به يوازې بهانه وي او دوی په قصد سره غواړي چي د شکايت کونکو زړونه ؤ وښيې.

د نورو خلکو ناهيلي وښوده، چي د جدي قضيو پر ځای کوچني قضيو ته لومړيتوب ورکول کيږي. يوه جدي قضيه چې ادعاً شوي د يو برحاله نوماندې لخوا، د بل نوماند ورور دسيسه جوړه کړې چې دی به نوموړې نوماندە په قتل ورسوي. په داسې حال کي چي په ښځينه نوماندې دا تور لږول شوی ده چي دې په خپل وار نوموړي کس نيولی( ګرفتار) له دې سره سره چی د نوموړی سړی خپل دويمه مياشت په زندان کی تيروي، د شکايتونو کميسيون وايی چي موضوع تر څيړنې لاندي ده.

Www.ecc.org.af — د شکايتونو کميسيون په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره

# د ملي دموکراتيک انستيتوت د څارنيز ماموريت په آند سيميه ييز غوره ټکي

## شمال ختيځه سيمه

ځينې نوماندان مستقيماً د بلواګرو ډلو سره تماس نيسي ترڅو د کندز او بغلان په سيموکي چي نوموړې نوماندان د قوې ملاتړ څخه برخمند دې د بريدونو ترسره کولو څخه لاس واخلې. نوماندان انديښمند دي، چي رايه اچونکي به د طالبانو د اخطارونو څخه ويره وکړې کوم چې نوموړو ته ويل شوې ؤ ترڅو په ټاکنو کې ونډه وانخلې. د ملي دموکراتيک مامورين چې په نوموړې سيمه کې کارکوې او د ملګرو مللتونو مامورينو په ډاګه کړه چي لاتر اوسه ښکاره نه ده چي نوموړي نوماندان په خپلو تماسونو کې د بلواګرو ډلو سره په موافقه رسيدلي او که نه خو تاو تريخوالي د ټاکنو تياری ته په شدت سره خنډ ګرځيدلی. ځينې وسلوالې ډلې لکه طالبان يا د ګلبدين د اسلامي حزب ځايی مليشې او داسي نورې جنايی ډلې د کندز او بغلان په ولايتونو کې فعالې دي. د سپتمبر په ۶ مه د بغلان په ولايت کې يو ولسوال په داسي حال کې ووژل شو چي نا څرګندو وسلوالو د نوموړې په موټر د راکټ بريد ترسره کړ. نوماندان او د ټاکنو کارکونکې ګواښول کيږی او تښتول کيږي. لکه څرنګه چې د ټاکنو ۲ ناظمين تښتول شوي ؤ چي د خپل خلاصون په خاطر يې وسلوالو سره ژمنه کړې وه چي دوی به د اړونودو دندو څخه استعفاً ورکړي. ګڼ شمير نوماندان ادعاً کوي چي نوموړي خپلواک دي او حزبي ګوندونو سره اړيکي نلرې. په عمل کي ۳ بنسټيز حزبونه په سيمه کي د ګڼ شمير نوماندانو څخه ملاتړ کوي. شمال ختيځه سيمه کي ډول ډول قومونه ميشت دي او سياسي ګوندونه په پراخه توګه په قومي لحاظ ولاړ ( استوار) دي. د جمعيت ګوند په پراخه توګه د تاجکانو نوماندانو څخه د تخار او بدخشان په ولايتونو کي ملاتړ کوي. په داسي حال کي چي د افغانستان اسلامی حزب د ځينوپښتنو نوماندانو سره د کندز او بدخشان په ولاياتونو کي تړاو لري. دکندز په ولايت کي څلورو کانديدانو په څرګند ډول وويل چي نوموړي د حزب اسلامي افغانستان سره تړاو لري. او د جنبش ګوند په ځانګړې ډول د ازبکو نوماندانو څخه د تخار او کندز په شمال ختيځو سيمو کي ملاتړ کوي

## سويليزه سيمه

محافظه کاره دودونو او نا امنه چاپيريال په سهيلي سيمو کي د ښځينه نوماندانو ټاکنيزې سيالی د ستونزو سره مخ کړي . ګڼې شميرې ښځينه نوماندانې د بريدونو له ويرې په ازاد ډول ټاکنيزې سيالی نشي کولای نو اړ دي چي د خپلو خونو څخه د تيلفون په کولو سره، او د نارينه ؤ په ليږلو سره تر څو د خلکو سره ليدنه و کړي او يا د قومي مشرانو څخه مرسته و غواړي خپلې ټاکنيزې سيالی تر سره کوي. د لاس ته راغلو ريپوټونو په بنسټ ښځينه نوماندې د تيلفون په ذريعه ګواښول کيږی، انځورونه ( پوسترونه) يې په بشپړه توګه څيرې او يا د سور رنګ په واسطه بدرنګه کيږي. د پکتيکا په ولايت کي يوه ښځينه کانديده يوه ورځ ورسته چي خپل نوم يې د نوماندی لپاره ليکلی ؤ د طالبانو لخوا و تښتول شوه او ۶ ورځې يې د طالبانو په قيد کې تيري کړي. د نوموړي پيښې څخه وروسته د شکايت ثبتولو څخه يې د شکايتونو په کميسيون او يا په نورو ادارو کې انکار وکړ. له نوموړو ستونزو سره سره ګڼ شمير ښځينه نوماندانې د پارلمان څوکيو د ترلاسه کولو لپاره په سيالی بوختې دي. د زابل په ولايت کې د ۱۶ نوماندانوڅخه ۶ نوماندانې ښځينه دي چي د نورو ولايتونو په پرتله يو لوړ شمير ښيي . د کندهار په ولايت کي يوې نوميالې ( مشهورې) د پارلمان برحاله غړې ملي دموکراتيک انستيتوت ته ؤويل چي د ښځينه نوماندو په وړاندې تهديدات د ښځو اهميت او لازياته ونډه په سياسي بهير کي په ګوته کوي. نوموړې څرګنده کړه: چي ښځينه بايد په سياسي بهير کي ونډه واخلي او غواړم د ا ثابته کړم چي ښځې کولای شي ترڅو په پارلمان کي رول ولوبوي. د ملي دموکراتيک د تحليل په بنسټ حال دا چي په رسمي ډول ښځينه نوماندانې خپلواکه دي ولې بيا هم په سهيلي سيموکي ۲ نوماندانې سياسي ګوندونو سره تړاو لري. ګڼ شمر ښځينه نوماندانو ملي دموکراتيک انستيتوت ته بيان کړه که څه هم د ښځو لپاره ګڼ شمير محدوديتونه شته ولې بياهم د دوی ونډه د ديموکراسی ښکارندوی ده.

ملي دموکراتيک انستيتوت يو ناپيلی، غيرحزبی او غير حکومتی سازمان دی چې په افغانستان کې له ۲۰۰۲ کال څخه راپدې خوا فعاليت کوي . عمده موخه يې د د موکراتيکو نهادونو څخه ملاتړ او دهغو د پياوړتيا په برخه کې هڅې دي ترڅو دغه باور د خلکو د برخې اخيستنې او په حکومت کې د شفافيت او حسابدهی له لارې غښتلې کړي. د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې انستيتوت۱۷۰۰ نوماندانو ته معلوماتی سيمينارونه په لار واچول. دغه راز سياسی ګوندونو ته او ۲۴۰ ښځينه کانديدانو ته يې هم ګټور ورکشاپونه ترسره کړي دی. انستيتوت يو لړ تخنيکی مرستې يې له FEFAسره کوم چې په افغانستان کې تر ټولو ستر کورنی ټاکنيز څارونکې نهاد دی، هم ترسره کړي. اوس مهال انستيتوت د کانديدانو د استازو لپاره روزنيز ورکشاپونه په لاراچولی تر څو د هغوی ظرفيتونه د ټاکنو څخه د ښه څارنې او نظارت لپاره تيار کړي.